

# د ایمان مورچل

کوچنی کتاب (کتابګوټی)

Ketabton.com

لیکوال: محمد ریګی کوته

ژباړن: اجمل هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ﴿ بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تاریخ جوړونکي :

﴿قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ٦٩﴾ [النمل: 69].
ژباړه: «ورته ووایه: "په ځمکه کښې وګرځئ راوګرځئ، وګورئ چې د مجرمانو څه عاقبت شویدی.».
په په پاک محراب کې پاک مشران واوسئ. پریږده چې له ژبې او چلند مو «ښه‌والی» وبهیږي او د نورو د زړونو کورونو ته داخل شي. ځینې د تاریخ جوړولو لپاره یوازې مواد وي، ځینې د تاریخ جوړونکي.
تاسې د کومې ډلې څخه یاست؟
په خپلو اعمالو سره خلک دین ته دعوت کړئ.
پریږده چې ستا خوله نه ستا عمل خبري وکړي.

## د چا عبادت باید وکړو؟

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ١٦٢﴾ [الأنعام:162].
ژباړه: «ووایه: زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم، زما ژوند او زما مرګ، هر څه د کائیناتو د پالونکي الله (ج) له پاره دي».
﴿إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ٥١﴾ [آل عمران: 51].
ژباړه: «الله هم زما رب دی او هم ستاسي؛ له دې امله تاسي د هماغه بندګي غوره کړئ، همدا سمه سیخه لار ده».
دا دي پر ځای چې سبا امسا په لاس کوڅه په کوڅه وګرځو تر خو ورکه شوي ځوانې پیدا کړو، راځه نن د ځوانۍ قدر وکړو. هر څوک چې بې‌موخې ژوند کوي، هر څومره چې وړاندې ځي د اصلي هدف نه لرې کیږي.
«هدف پیژندنه» زموږ عمر ته برکت ورکوي او زموږ حرکت ته «جهت» ښيي.

## له پل صراط څخه تیرېدل:

﴿وَإِن مِّنكُمۡ إِلَّا وَارِدُهَاۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتۡمٗا مَّقۡضِيّٗا٧١ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيّٗا٧٢﴾ [مریم: 71-72].
ژباړه: « ستاسي څخه هیڅوك داسي نشته چي دوږخ ته ورتلونکی نه وي، دا خو یوه فېصله شوې خبره ده چي د هغې هرو مرو تر سره کول ستا د رب په ذمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي.بیا به موږ هغه کسان وژغورو چي (په دُنیا کښي) پرهېزګاران ول. او ظالمان به په همغه کښي پر ګونډو غورځېدلي پرېږدو""
جنت د ګناه بهېدونکي سېند هغې غاړې ته دی. هغه څوک چې په دې دنیا کې د تمرین او عادت له لارې د ګناه پرېښودل تمرین کړي وي، په آخرت کې به هم له پله صراط - چې د جهنم پر سر واقع دی - په تېزۍ او سلامتۍ تېرېږي انشا الله.
اللهم اهدنا الصراط المستقیم.

## د وجود انجینري (مهندسی وجود):

﴿وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ﴾ [الذاریات: ۲۱]
ژباړه:
«او ستاسې په خپلو نفسونو (وجودونو) کې [هم نښې دي]، نو آیا نه وینئ؟»
﴿سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَ لَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ﴾ [فصلت: ۵۳]
ژباړه:
«ژر به موږ دوی ته خپلې نښې په افاقو (د کائناتو په فضاوو) او د دوی په خپلو نفسونو کې هم وروښیو، تر دې پورې چې دوی ته څرګنده شي چې همدا (قرآن) رښتیا حق دی؛ ایا دا کافي نه ده چې ستا رب پر هر څه ګواه دی؟»

﴿وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ لَّعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ﴾ [الزمر: ۲۷]
ژباړه:
«او یقیناً موږ په دې قرآن کې د خلکو لپاره هر راز مثالونه بیان کړي، ښایي چې پند واخلي.»
که موږ وکولای شو چې د خپل وجود په "هندسه" کې یو مطلوب شکل رسم کړو، نو موږ هم مهندسان یو.
که د هغو دایره مو د «ایمان پر محور» وڅرخي، له بې‌شکلۍ(ګمراهۍ) به خلاص شو.
په تدبر (ژور فکر) او راتلونکې لید سره باید ځان ته یو هدف او روښانه آینده رسم کړو.
مخکې له عمله آینده‌لید(هدف) لرل د پښېمانۍ مخه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شریک ژوند (واده):

**﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [الروم: ٢١]

ژباړه:«او د الله عزوجل له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه یې میرمني پیدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي یې مینه او خواخوږي پیداکړه. په باوري ډول پدې کښي د هغو خلکو لپاره ډیري نښاني دي چي غور او فکر کوي.»

واده یوازې د "یوازیتوب" نه ژغورنه نه دي، بلکې دا "همدلي"،"ملګرتیا" او "د روحونو یووالي" ته رسېدل دي.

ډېر ځله تجارتي میني، د بسونو (لنډمهالو سفرونو) میني، او د ټیلفوني یا انټرنټي پیژندګلوۍ میني د "ناکجاآباد" پایله لري.

د کورنۍ دا سپېڅلی بنسټ د هوسونو پر شګو او یا کمزوري ځمکه باندې باید جوړ نشي.

د ښځې ښګلا ته نه باید د هغې دینداري او تقوا ته ترجیح ور کړل شي.

## د حساب پرانیستل:

﴿هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ حِسَابٖ٣٩﴾ [ص: 39].

ژباړه: «(موږ هغه ته وویل) "دا زموږ درکړه ده، ته واکمن یې، چا ته چي دي خوښه شي ور یې کړه او چا ته چي وغواړې ور یې نه کړې څه حساب نشته».

﴿وَالْعَصْرِ١ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ٢ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ٣﴾ [العصر:1-3].

ژباړه: «پر عصر (قسم) * چې انسان په تاوان کې دی * پرته له هغو خلکو څخه چي ایمان یې راوړی او ښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او د صبر ښودنه کوي».

ایا موږ له لاسه وتلي عمر پسې هغومره خپه کیږو لکه په نادرکه شویو پیسو پسې؟

ایا د «روح د سلامتی» په اندازه د «جسم سلامتی» ته فکر کوو؟

راځئ د ژوند هره شیبه په حساب کې راولو او ضایع یې نه کړو. عمر مو په هغو چارو مه تباه کوئ چې ګټه یې په قبر کې نه راته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نن او سبا:

﴿يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ١١٤﴾ [آل‌عمران:114].

ژباړه: «پر الله او د اخرت په ورځ ایمان لري، پرنېکیو امر کوي له بدېو څخه منع کوي او د ښېګڼې په چارو کښې په چټکی بوختیږي، او دوی صالحان دي».

﴿مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ٤٦﴾ [فصلت:46].

ژباړه: «هر څوک چې نېک عمل وکړي، د خپلې ګټې لپاره یې کوي، او هر څوک چې بد عمل وکړي، د خپل تاوان لپاره یې کوي، او ستا رب پر بندګانو هېڅ ظلم نه کوي».

هغه څوک چې خپل «نن» د «سبا» په هیله تېروي، د هغه «سبا» به د پرون په حسرت او افسوس کې تېره شي.

بریا د هغه چا ده چې د وخت له هرې لحظې د غفلت او ستونزو څخه د خلاصون لپاره ګټه پورته کړي، او د ځوانی له وخته د زاړه عمر لپاره زېرمه او توبه جوړه کړي. د هرې ورځې کار باید په هماغه ورځ کې ترسره شي، سبا ته یې مه پرېږدئ.

## د هیلې وسله:

﴿وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ [یوسف:87].

ژباړه: «د الله له رحمت څخه مه نا امیده کیږئ، ځکه پرته له کافرانو بل څوک د الله له رحمت څخه نه نا امیده کیږي».

تولې لارې د «نه کیږي» په دېوال نه ختمیږي. تولې کوځې په «بن بست» پای ته نه رسیږي. بې‌هیلې انسان د هغه جنګیالي په څېر دی چې بې‌وسلې شوی وي اود مقابل لښکر پر وړاندې ژر تسلیم کیږي.

هیڅکله «د هیلې وسله» پر ځمکه مه ږدئ. ځکه هر هیله‌من لټونکی او ګټونکی دی.

## آزاد څوک دی؟

﴿فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَن لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ١٦﴾ [طه:16].

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: «نو يو داسي څوك چي پر هغه (قيامت) ايمان نه راوړي او د خپلو نفسي غوښتنو بنده ګرځېدلی دی، تا دي د هغه ساعت له فکر څخه منع نه کړي، که نه نو، ته به په هلاکت کښي وغورځېږي».
﴿أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٢٣﴾ [الجاثيه:23].
ژباړه: « نو ايا تا کله د هغه چا په حال باندي غور کړی دی چي خپل نفسي خواهش يې خپل خدای وګرځاوه؟ او الله له علم سره، هغه په ګمراهی کښي وغورځاوه او د هغه پر زړه او غوږونو باندي يې مُهر وواهه او د هغه پر سترګو يې پردې وغوړولې. له الله څخه وروسته اوس بل څوك دی چي هغه ته هدايت وکړي؟ ايا تاسي څه درس نه اخلئ؟»
هغه څوک چې د «خپل نفس» بندي وي، د «دښمن» په لومه کې هم اسانه ايساريږي.
آزاد هغه څوک دی چې د نفس له هوسونو ازاد شوی وي، د دنيا او ثروت مالک وي نه دا چې د دينار او درهم مملوک او غلام وي! رښتينی آزاد هغه دی چې د الله بنده وي. او رښتينی غلام هغه دی چې د دنيا د ثروت او مال بندي وي.

## د ځان جوړوني کلب:

﴿أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ٤٣﴾ [الفرقان:43].
ژباړه: «ته کله د هغه چا حال ته ځير شوی يې چي خپل نفسي خواهش يې خپل خدای ګرځولی وي؟ - ايا ته پر سمه لاره باندي د داسي چا د را اړولو مسئوليت پر غاړه اخيستلای شې؟»
بايد د «ځان جوړوني کلب» ته ولاړ شو او د تمرين له لارې «اراده» پياوړې کړو. يو تمرين دا دی چې «زړه» د «هوس» له بنده آزاد کړو. د زړه دوسيه صفحه په صفحه خلاصه کړو، آفتونه(ګناهونو) يې وپلټو او د درملنې لپاره يې لارې ولټوو. که د نفس هوس تعقيب کړې، هغه به دې ړوند او کوڼ کړي!

## موږ ولې نوي نه شو؟

﴿وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [النور:31].
ژباړه: «اې مؤمنانو! ټول (ښځينه او نارينه) الله ته توبه وباسئ، ښايي چې بريالي شئ».

(c) ketabton.com: The Digital Library

«پسرلی» هغه قیامت دی چې طبیعت له «قبر» څخه ژوندی راباسي. پسرلی د طبیعت ښکلی غزل او د الله د قدرتونو یوه نښنه ده. کله چې د پسرلي په راتلو طبیعت «نوی» کېږي، نو موږ ولې نوي نه شو؟
کمزوری انسان هغه دی چې د خپلې اصلاح توان نلري.

## د عمر پسرلی:

﴿نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى١٣﴾ [الکهف:13].
ژباړه: «موږ د هغو اصلي کیسه تا ته اوروو. هغوی څو تنه زلمیان ول چې پر خپل پروردګار یې ایمان راوړی ؤ او موږ هغو ته په هدایت کې پرمختګ ورپه برخه کړی و».

هغه کسان چې د «ځوانۍ پانګه» ضایع کوي، په راتلونکي عمر کې به یې یوازې «د حسرت بار» او «د پښېمانۍ مېوه» په نصیب وي.
ځواني د عمر پسرلی دی. مګر افسوس چې موږ د ځوانۍ دا شفافه ښیښنه د «غفلت په ډبرو» سره ماتوو. الله هغه ځوان خوښوي چې خپله ځواني د الله په لاره کې تېروي.

## د زړه پروانه:

﴿يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا٢٨﴾ [الفرقان: 28].
ژباړه: «هی زما بد قسمته، کاشکي مې فلانی سړی په دوستۍ سره نه وای نیولی،»».
د زړه پروانه (پتنګ) مو د هر ګل پر لور مه لېږئ. له معتاد، نري رنځ لرونکي او جذامي سره ملګرتیا روغ انسان هم ناروغوي. د حرص لرونکو، حسودو، بېپرواوو او ګناهکارانو ملګرتیا انسان په همدې ناروغیو اخته کوي. کله چې موږ له خوشبویه ګلونو سره دوست کېدای شو(دا فرصت لرو)، نو ولې له بدبویه کثافاتو سره همنشین شو؟ هماغه یوازېتوب د (چټلو ملګرو) له ملګرتیا غوره دی.

## د زړه هنداره:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ٢٨﴾ [الرعد: 28].

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: «همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه كسان دي چي (ددې پيغمبر بلنه ) يې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره ډاډګيرنه ور په برخه کيږئ.
خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چي زړونو ته ډاډګيرنه ورپه برخه كوي».
هغه څوک چې خپل روح د «ذکر چينه» کې پريمنځي، د پاکي څښتن کيږي. غفلت د زړه هنداره توره وي. کومه ډبره چې توره وي، ايا د لمر د وړانګې منعکس کوي؟! راځئ زړونه روښانه وساتو څو د الله نور پکې منعکس شي.او د الله په ياد زړونه شفا مومي.

## د ايمان مورچل:

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ٢﴾ [الأنفال: 2].
ژباړه: «رښتيني مؤمنان هغه دي چي زړونه يې د الله د ياد په اورېدلو لړزيږي. او كله چي د هغو په وړاندي د الله ايتونه لوستل کيږي، نو د هغو ايمان زياتيږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري».
بې‌ايمانه ځوان د ګناه په کنده کې بند پاتې کيږي. يوازېتوب مو د «الله په حضور» ډک کړئ، تر څو د شيطان لپاره ځای پاتې نه شي. د عقيدې په مورچل کې ودريږئ، تر څو شيطان درته د ايمان مورچل ويجاړ نکړي او د زړه سيمې ته مو لار پيدا نه کړي. د الله په ياد د شيطان شړل ممکن دي او بس.

## د عمر په ټولګي کې:

﴿قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُم بِٱلۡأَخۡسَرِينَ أَعۡمَٰلًا١٠٣﴾ [الكهف: 103].
ژباړه: «[اې محمده (ص)!] دوی ته ووايه: ايا موږ تاسي ته وښيو چي په خپلو عملونو كښي تر ټولو زيات ناكام او نامراده خلك څوك دي؟».
د عمر ټولګي کې، هر څوک يو ځل کښېنول کيږي، درس ورکول کيږي او ازموينه ترې اخيستل کيږي. موږ اوس د عمر ټولګي پر څوکۍ ناست يو. دا دي ټولګي نتيجه به په قيامت کې موږ ته راکول کيږي.
د نېکۍ په کولو خپله نتيجه بهتر كولی شو
خدايه! موږ د هغه ورځې له مردودو او شرمسارو مه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چا لپاره ژوند کوو؟

﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ﴾ [النساء: 80].
ژباړه: «چا چې د رسول اطاعت وکړ، هغه په حقیقت کې د الله اطاعت وکړ».
د خلکو د خبرو له امله خطا لارې ته دوام ورکول، د کمزورې ارادې نښه ده. ایا موږ د خلکو لپاره ژوند کوو؟
ښه عمل د آخرت د سفر لپاره توښه ده.
باید د خپل روح معماران(مهندسان) واوسو، نقشه له الله او رسول الله څخه واخلو، او تل پاتې کور پرې ډیزاین کړو.

## د پای کرښه:

﴿قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١١﴾ [الأنعام: 11].
ژباړه: «دوی ته ووایه: «د ځمکې پر مخ وګرځئ راوګرځئ، وګورئ چې درواغ ګڼونکې له کوم برخلیك سره مخامخ شویدي؟».
«تجربه» یوه صافه هنداره ده چې ډېرې حقایق پکې لیدلی شو. تجربه د ژوند د لارې څراغ دی. دا څراغ باید روښانه وساتو او د هغې په رڼا کې لاره ښه لیدل کیږي. د تجربې مېوه غوره انتخاب دی.

## د ژوند سیالۍ:

﴿فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ أَيۡنَ مَا تَكُونُواْ يَأۡتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٤٨﴾ [البقرة: 148].
ژباړه: «او د هر چا لپاره یو لوری دی چې هغه ته مخ اړوي، نو تاسي د ښېګڼو په لوري په ځغاسته شئ. هر چیري چې اوسئ، الله به تاسي ټول ومومي (راولي)، الله په هر شي باندې ښه برلاسی دی».
ژوند د لوړو ژورو ټولګه ده. ژوند یوه سیالي ده ـ عمومي، همېشه او سراسري. په دې سیالۍ کې څوک ګټي او څوک يي بایلي؟ ...
اصلاً ګټنه د ژوند په سیالۍ کې په څه کیږي او بایلل په څه؟

## معیوب توکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ٤٧﴾ [الأنفال: 47].
ژباړه: «او تاسي د هغو خلكو غوندي مه كيږئ، چي له خپلو كورونو څخه وياړلي او خلكو ته د ښودني لپاره را ووتل. او كړنلاره يې دا ده چي (خلك) د الله له لاري څخه منع كوي. هغوى چي څه كوي د خداى له مواخذې څخه د باندي نه دي».
له ريا ډک كارونه لكه «خراب مال» داسي دي. الله چې د اعمالو مشترى دى، له «ښه متاع» او «خالص عمل» پرته بل څه نه قبلوي. هغه ﷻ ښه او بد توكي ډېر ښه پېژني. هغه عمل چي لږه ذره ريا پكې هم وي، الله يې نه مني. نو ولې ريا او تظاهر؟

## د دعا رنګين كمان:

﴿ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ٥٥﴾ [الأعراف: 55].
ژباړه: «خپل رب په زاريو زاريو او په پټه پټه وبلئ. دا يقيني ده چي هغه له حده تېري كوونكي نه خوښوي».
كله چې د زړه اسمان تور شي او د سترګو هوا ابري(وريځ) شي، نو دا وخت د اوښكو د بهېدو پسرلى دى(الله ته وژاړه). بايد د اوښكو د څاڅكو قدر وكړو، ځكه ځينې وختونه يو څاڅكى اوښكه د دوزخ اور مړ كوي!

## ورک شوى څوک دى؟

﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ١٩﴾ [الحشر: 19].
ژباړه: «د هغو كسانو په څير مه كيږئ چي الله يې هېر كړ، نو الله پر هغوى د هغوى خپل ځانونه هېر كړل، همدغه خلك فاسقان دي».
څومره چې ستا ورک شوى څيز قيمتي وي، په هماغه اندازه يي غم هم درونډ وي او د موندلو خوشالي يي هم زياته وي. ايا داسې كله شوي چې له «ځان وركولو» وروسته دې بيا ځان پيدا كړى وي؟ كله چې انسان د يوې نړى ارزښت ولري، ولې بايد ځان په ناچيزه بيه خرڅ كړي؟

## كه عاشق كيږې...

﴿قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ أَزۡكَىٰ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَصۡنَعُونَ٣٠﴾ [النور: 30].
ژباړه: «[اې پېغمبره (ص)!] مؤمنو نارينه ؤ ته ووايه: چې خپل نظر تر کنټرول لاندي وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. په باوري توګه، هغوی چې څه کوي الله پرې خبرېږي».
که زړه بايلې، په داسې څه يې وبايله چې ارزښت ولري. که عاشق کېږې، په داسې څه عاشق شه چې له تا زيات ارزښت ولري. که غواړې زړه دي بېځايه د هوا او هوس ښکار نشي (د نفس طوفان يې غرق نکړي)، سترګې مو کنټرول کړئ.

## دانه او دام:

﴿وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ إِذَا هُمۡ يَقۡنَطُونَ٣٦﴾ [الروم: 36].
ژباړه: «کله چې موږ په خلکو باندي د رحمت خوند څکو، نو هغویورباندي وياړي او کله چې د هغو د خپلو کړنو لامله کومه بلا ورباندی راځي، نو ناڅاپه ناهيلي کيږي».
بايد د «دانو» تر شا «دامونه» وپېژنو او د نقابونو تر شا ريښتيني څېرې ووينو. هغه څوک چې غواړي له ګناه سره تفريح وکړي، دوچند د وجدان په عذاب اخته کيږي. ځينې خلکو ګناه په تفريح اړولې!

## د ګناه لمبې:

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ٨٢﴾ [البقرة: 82].
ژباړه: «[ او کوم خلك چې ايمان راوړي او نېك عملونه وکړي، هغوی جنتيان دي او په جنت کښي به تل اوسيږي».
«د آخرت کور» په همدې دنيا کې جوړېږي. معمار يې موږ خپله يو او مصالح يې زموږ اعمال دي. له نېکو عملونو د جنت باغونه جوړيږي او بد کارونه د دوزخ لمبې ګرځي. هغه باغونه او بوستانونه چې د صالح اعمالو په ذريعه مو جنت کې جوړ کړي، د ګناه په لمبو مه سوزوئ!

## د ژوند ګلان:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ...٦﴾ [التحريم: 6].

ژباړه: «اې ايمان راوړونکو! خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له هغه اوره وساتئ چې سون مواد يې خلک او ډبرې دي...».

«کورنۍ» يو بڼ دی. «پلار او مور» د دې باغ باغوانان دي. «اولادونه» يې ګلان او مېوې دي. والدين بايد ددې ګلانو ساتنه او پالنه په خورا دقت وکړي تر څو وچ او تالا نشي.

تر ټولو غوره ميراث چې پلاران يې خپلو اولادونو ته پرېږدي، ادب دی.

## د زړه څوکيدار:

﴿وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ...﴾ [الکهف: 28].

ژباړه: « د يو داسي چا اطاعت مکوه چي د هغه زړه موږ له خپل ياد څخه غافل کړيدی او د خپل نفس پيروي يې غوره کړېده او کړنلاره يې په افراط او تفريط باندي ولاړه ده....».

کولای شو له زړه هم د الله کور جوړ کړو، هم د شيطان مرکز. که نه غواړې ابليس دې د زړه کور اشغال کړي، دا کور الله ته وسپاره. د زړه څوکيداري دي وکړه څو اشغال نه شي. د زړونو رڼا د الله په ياد او د قرآن په تلاوت کې ده.

## ځان پېژندونکی:

(يَاأَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِى خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ)﴿[سُوْرَةُ البَقَرَة : 21]

اې خلکو! د خپل هغه رب بندګي غوره کړئ چي ستاسو او ستاسي څخه د مخکينيو تېرو شوېو خلکو ټولو هستوونکی دی؛ ښايي چي تاسي له عذابه ځانونه وژغورئ».

هغه شخص بريمن ده چې پوهېږي: «څوک دی»، «څه ته راغلي دی» او «څومره ارزښت لري». هېڅ پېژندنه د ځان پېژندنې په شان نه ده.

«ځانپېژندونکی» هغه څوک دی چې له خپل اصل او هدفه باخبر وي. په دي پوه شي چې له کومه راغلی او ولې راغلی؟ او بالاخره چېرته ځي؟

## لومړی او وروستی خطا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ...١٣٧﴾ [آل عمران: 137].
ژباړه: «ستاسي څخه مخکي ډېري دورې تيري شويدي، په ځمکه کښي وګرځئ، راوګرځئ،».
ځيني وختونه لومړنی خطا وروستۍ خطا هم وي. ځيني وختونه( يوه ښوويدنه په ژوند کې ،خطا په محاسبه کې او اشتباه په پريکړه کې) نه جبرانيدونکي پايلې لري سرنوشت در په در کوي او د جبران لپاره هيڅ فرصت نه در پريږدي. د نورو د تجربو ګټه اخيستل دوه برابره عقل او حيات مجدد دی.

## د سيالۍ د پای شپيلک:

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٞۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ...٣٤﴾ [الأعراف: 34].
ژباړه: «د هر قوم لپاره د مهلت يوه ټاکلې نېټه ده، بيا چي کله د کوم قوم وخت او نېټه پوره کيږي، يو ساعت وروسته والی او مخکي والی به هم پکښي نه راځي.».
مرګ هغه داور(امپاير) دی چې ناڅاپه سيالۍ ته راځي او د پای شپيلک وهي. حتی يوه دقيقه هم لوبه نه تمديد کوي. په پای کې ګټونکی او بايلونکی اعلانوي.
زيانکاران هغه دي چې د لوبې وخت (خپل عمر) يې بې ځايه ضايعه کړی وي.

## د عمر کړی:

﴿وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا...١١﴾ [المنافقون: 11].
ژباړه: «پېداسي حال کښي کله چي د يو چا د عمر د پوره کېدو وخت رارسيږي، نو الله هغه ته هيڅکله نور مهلت نه ورکوي. او تاسي چي څه کوئ الله ښه پرې خبر دی».
موږ له وخت سره په داد و ستاد کې يو. هغه له موږ عمر او ځوانی ترووړي. موږ له هغه څه ترلاسه کړي او څه ترلاسه کوو؟ کله چې د «عمر کړی» پای ته ورسيږي، د بېرته راګرځولو امکان يي هم بيا نه شته. له فرصت نه ګټه واخله، مخکې له دي چې د پښېمانۍ وخت راشي.

## د وخت رېل ګاډی:

فَلَمَّآ أَنجٰىهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰىٓ أَنفُسِكُم ۖ
مَّتٰعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴿[سُوْرَةُ يُونس : 23]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: خو الله چي کله هغوی وژغوري، نو بیا هماغه خلك له حق څخه په سرغړاوي، په ځمکه کښي په سرکښۍ لاس پوري کوي. اې خلکو! ستاسي دا سرکښي همدا ستاسي په زیان تمامه شوېده. د دُنیا څو ورځني خوندونه دي (وایې خلئ). بیا زموږ لوري ته ستاسي راګرځېدل دي، په هغه وخت کښي به موږ در وښیو چي تاسي څه کول».

دنیا یو «زاړه اوږده رېل پټلی» ته ورته ده چې د «وخت رېل ګاډی» پرې تېرېږي. موږ د همدي رېل ګاډي مسافر یو، له دنیایي کلي نه د اخرت ښار ته. د افسوس ځپیرې به مخ ته هغه وخت ورکړو چې وګورو هېڅ توښه مو نده برابره کړې تش لاس راغلي یو.

## د ملکوت سپوږمکۍ:

﴿وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ١٠ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ١١ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ١٢﴾ [الانفطار: 10-12]

ژباړه: «پر تاسې ساتونکي پرښتې ګمارل شوي دي، درونډ مقام لرونکي لیکوالان، چې ستاسو ټول کارونه ښه پېژني».

شیطان هڅه کوي چې د دعا کوونکو او لمونځ کوونکو اړیکه د هستۍ له مبدا سره پرې کړي. دا اړیکې باید پرې نه شي، ځکه چې زموږ د ژوند کړه وړه د همدي « سپوږمکۍ» له لارې د آسمان پرښتې څاري. هغه کسان غوره کیږي او جایزې ورکول کیږي چې د سپوږمکۍ سیګنال(دعا او لمونځ) یي خورا قوي وي.

## خبرې او چوپتیا:

﴿وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمٗا٦٣﴾ [الفرقان: 63].

ژباړه: «د رحمان اصلي بندګان هغه څوک دي چي پر ځمکه باندي په ورو (په عاجزي) ځي او که جاهلان یې مخي ته راشي، نو ورته وایي: "تاسي ته سلام»".

چوپتیا ښه ده، خو ګټوره خبره تر چوپتیا غوره ده! هم خبرې کولو ته تمرین پکار دی او هم چوپتیا ته. نو ژبه او خبرې باید زموږ تر واک لاندې وي.

## د میني بیه:

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ١٤﴾ [آل عمران: 14].
ژباړه: «د خلکو لپاره نفسي غوښتني، ښځي، اولادونه، د سرو سپينو زيرمي، نښه شوي (کره) اسونه، څاروي او کروندې د ډيري ميني وړ ګرځول شويدي. خو دا هر څه د څو ورځني د نيوي ژوندانه وسايل دي. په حقيقت کښي چي کوم ډېر ښه استوګنځی دی، هغه له الله سره دی».
مينه د «معراج» لاره ده. هغه څوک چې مينه له هوس سره ګډوي، په ذلت کې پاتې کيږي. پاکه مينه(الله سره مينه)، انسان له ناپاکه مينې(دنيا سره مينه)څخه لرې کوي. ځينې خلک د مينې په نوم، په هر چا زړه پلوري!

## دوسيه :

﴿وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا١٠ وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشٗا١١ وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعٗا شِدَادٗا١٢﴾ [النبأ: 10-12].

ژباړه: «شپه مو پرده اچونکې ګرځولې ده، ورځ مو د ژوند وخت ګرځولی، او ستاسو پر سر مو اووه کلک آسمانونه جوړ کړي دي».

د شپې او ورځې تېرېدل، د مياشتو او کلونو بدلېدل، زموږ لپاره «دوسيې» او «کارنامې» جوړوي. د تېر کال دوسيه بايد يو ځل بيا وګورو، ترڅو خپل صورت او سيرت د «اعمالو په هنداره» کې ووينو. د ژوند په پاتې شيبو کې څه بايد وکړو چې «تر ټولو غوره عمل» وبلل شي؟

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو د دعاوو په هیله

اجمل هېوادمل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**